# ثوک چې (نجومي زده کړه کوي)، هغه په حقيقت کې داسې ده لکه د سحر يوه برخه چې زده کوي، نو څومره يې چې زياته زده کړه کوي په همغه اندازه يې د سحر د زده کړې کچه زياتيږي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «ثوک چې (نجومي زده کړه کوي)، هغه په حقيقت کې داسې ده لکه د سحر يوه برخه چې زده کوي، نو څومره يې چې زياته زده کړه کوي په همغه اندازه يې د سحر د زده کړې کچه زياتيږي».
[صحيح] [أبو داود، ابن ماجه او احمد روايت کړی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم بيانوي چې چا د علم نجوم او برجونو پېژندلو زده کړه وکړه او د ځمکې په پېښو کې يې د هغوی په خوځښتونو، ننوتلو، وتلو د اغيزې استدلال وکړ لکه: د فلاني مړينه، ژوند، ناروغي او داسې نور شيان چې په راتلونکي کې به پېښ شي، نو په حقيقت کې يې د جادو يوه برخه زده کړې ده، او دا چې يو ثوک هر څومره دا زده کړه زياته کوي؛ په همغومره اندازه يې د جادو زده کولو کچه زياتيږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5989